زلمی پښتون
جنوري ۱۶ - ۲۰۱۴

# د "ویښ زلمي" په اړوند لازم توضیحات

د ښاغلي عزیز کهګدای د توجه وړ:
ستاسي په زړه پوري لیکنه مي د (پندِ بزرگ  شش جدی یا کودتاه سوم) تر عنوان لاندي چي د ۲۰۱۴ کال د جنوري په دوهمه د (افغان جرمن آنلاین) په سایټ کي خپره سوې وه ، ولوستله. دا چي تاسي په تېرو څو لسیزو کښي د هیواد دردونکي سیاسي حالات په ډېره لنډه توګه په ګوته او څېړلي دي ، په تېره بیا چي د "ویښ زلمي" مترقي نهضت په اړه مو هم څه لیکلي دي کوروداني وایم.

البته ستاسي د لیکني د یوې برخي په رد عمل کي چي د "ویښ زلمي" د مترقي نهضت بنسټ ایښوونکی مو شهید سردار محمد داوؤد خان بللی دئ ښاغلي احسان لمر په همدغه سایټ کي د ۲۰۱۴ کال د جنوري په اوومه د ویښو زلمو د مترقي نهضت بنسټ ایښوونکی اروابناد محمدرسول پښتون ښوولی دئ چي زه یې هم ملاتړ کوم.

تاسي لیکلي دي: "در خلال این مدت ، سردار محمد داؤد حزب «جوانان بیدار» را به وجود آورد که بعد ها دو حزب کمونستی خلق و پرچم از آن تراوش کرد و بالاخره در ۱۹۷۳ م با کمک گماشتگان شوروی علیه محمد ظاهر شاه کودتا صورت گرفت."
دلته دوې اساسي نکتې د تأمل وړ دي.
۱- د "تراوش" د کلمې په استعمال سره ذهن د علت او معلول یا فعل و انفعال و عملیو ته انتقالیږي. ښاغلی کهګدای که د ویښو زلمو ضمیمه لست وګوري ، د ویښو زلمو ټول اعضاء تکړه مسلمانان ، روښنفکران ، هیوادپال او مترقي ناسیونالیستان وه چي د هیواد د ترقی سره یې مینه درلوده. په دې ضمن کي یوازي نورمحمد تره کی و چي د اروابناد محمدرسول پښتون په قول یې له اوله چپګرایانه افکار درلوده. د "تراوش" نتیجه ګیري د خلق او پرچم په برخه کي مطلقاً صدق نه کوي. که صدق کوي ، نو دموکرات مترقي ، افغانملت او مذهبي ډلو په برخه کي به صدق وکي. زه غواړم ووایم چي که نورمحمد تره کی په ویښو زلمو کي وای هم نه ، ده به "خلق" ګوند جوړ کړی وای. دا موضوع په ویښو زلمو هیڅ اړه نه لري: "خلق" د سړې جګړې محصول و او "ویښ زلمی" د زمان د روښانفکرانه نهضتو محصول و.

۲- د ډېرو داخلي او خارجي منابعو په حواله او د "ویښ زلمي" د مترقي نهضت د اصلي تاریخچې په استناد د "ویښ زلمي" د مترقي نهضت بنسټ ایښونکی اروابناد محمدرسول پښتون دئ نه شهید سردار محمد داود خان. په تأسف سره باید ووایم چي زموږ اکثرو تاریخ لیکونکو او نورو لیکوالو د "ویښ زلمي" د مترقي نهضت په اړه ناسم او بې بنسټه معلومات افغاني تاریخ ته سپارلي چي زه ددوی دا کړه د ملي تاریخ په لیکلو کي "بې مسوؤلیتي" بولم.

روسي تاریخ لیکونکي Victor G. Korgun په خپل کتاب
"The history of Afghanistan, The twentieth century, Intellectuals in the political life of Afghanistan"
په ۲۵۳-۲۵۲ صفحو کي اروابناد محمدرسول پښتون د دریمي مشروطه خواهی په شروع کي د "ویښ زلمي" د مترقي نهضت د بنسټ ایښونکي په حیث بللی دئ چي د روسي متن ترجمه سوې بڼه یې لاندي وړاندي کیږي:

"The increase in political tension, coupled with the economic and political pressure from the U.S. later complicated the situation in the country. In 1946, the government of Muhammad Hashim Khan resigned. At the head of the new government got another uncle of the King - Shah Mahmood Khan. The growing

conflict between the bourgeois-landlord circles and the mass medium and small producers in town and country led to the emergence of opposition sentiment. Their spokesmen were various political movements and groups, advocating the interests of large urban middle classes and some of the lower classes.

The main requirements of these movements included the abolition of the monopoly of large economic benefits of trade unions, the democratization of public life, the adoption of a new constitution, providing greater opportunities for the activities of small and middle bourgeoisie. Dissemination of ideas that reflected the interests of the middle strata, led in 1947 to the emergence of political organization "Wish Zalmiyan" ("Awakened Youth"). It was quite colorful in its social composition movement, the number of participants does not exceed 100 persons. In its ranks were the petty bourgeoisie, the bureaucracy, the intelligentsia, the clergy. At the head was a small landowner from Kandahar Muhammad Rasul Khan Pashtun. Active participants in the movement were Nur Muhammad Taraki, who led his left, the radical wing, Abdurrauf Benawa, Abdulhai Habibi Gul Pacha Ulfat*. At the first stage of the "Wish Zalmiyan" has been engaged in educational activities. In the late 40's they were involved in active political struggle, taking part in the parliamentary elections in 1949 As a result, the membership of the National Council-seventh convocation ICDO formed a group of deputies, bases its activities on the ideas of "Wish Zalmiyan." Using his speech to parliament as a platform for the implementation of the requirements of the struggle to "wake the young people", they at the same time, sought to turn the People's Council in the effective authority which would regulate the work of the state apparatus. "

http://www.e-reading-lib.org/djvureader.php/133037/162/_nehudlit_-_Istoriya_Afganistana_s_drevneiishih_vremen_do_nashih_dneii.html

* استاد حبیبي ، استاد بینوا او مرحوم گل پاچا الفت هیڅکله د نورمحمد تره کي د لارویانو په مقام کي نه وه. دغو محترمو اشخاصو چي د تره کي سره په کومه پیمانه روابط درلوده ، په هماغه اندازه یې د ګوند د نورو اعضاء سره د ملګرتوب روابط درلوده. ددوی بعدي موقفونه او نظریات دا حقیقت ثابتوي.

همدارنګه:

دپارتمنت تاریخ نوین افغانستان ، پوهنځی تاریخ وفلسفه ، پوهنتون کابل ، تیراژ ۱۰۰۰ جلد

تاریخ نوین افغانستان— تالیف:یوویدگنکوفکسی و مسکوموسیل

مترجمین :داکتر ابراهیم عثمان و داکتر قربان بابایوف

مترجم دری :جمراد جمشید

چاپ ۳- ۱۳۶۵ ش . مطبعهٔ پوهنتون

"ویښ ځلمی : توزیع عقاید متذکره که درآن منافع قشر متوسط آماده میگردید سبب شد تا در سال ۱۹۴۷ سازمان سیاسی ایجاد گردید که بنام ویښ ځلمیان شهرت گرفت . درین سازمان سیاسی در حدود صد نفر متعهد شده بودند و از لحاظ موقف اجتماعی و طبقاتی خود گوناگون بودند ، در صف این جنبش نماینده گان خورده بورژوازی ، ماموران ، روشنفکران و روحانیون نیز شامل بودند. رهبر این جنبش محمدرسول خان پشتون یک تن از زمینداران قندهار بوده..."

د بعضو دغه ادعا ډېره بې بنسټه ښکاري چې وايي: "در مورد این که ویش زلمیان را در اصل سردار محمد داوود خان با حمایت مالی عبدالمجید زابلی ، سرمایه دار و وزیر اقتصاد ملّی در کابینه ی شاه محمود خان ، غیر مستقیم بوجود آورده بود اکثر نویسندگان و تحلیل گران هم عقیده اند. هدف سردار محمد داوود خان از تشکیل گروه ویش زلمیان این بود که با ایجاد یک هستهٔ به ظاهر ضد آمریکایی ، به ریاست محمد رسول پشتون ، شاه محمود خان صدراعظم را از صحنه خارج سازد. حقیقت هر چه باشد واقعیت این است که ویش زلمیان ، ظاهراً به عنوان یک سازمان سیاسی نیمه لیبرال ، توسط تعدادی از نویسندگان و روشنفکران ملّی گرا و عمدتاً پشتون تأسیس گردید. ترکیب اجتماعی ویش زلمیان گوناگون بود و در آن دموکرات ها ، خوانین ، سرمایه داران ، روحانیون و کمونیستها عضویت داشتند. علت این ناهمگونی اجتماعی در آن بود که حزب ایدئولوژی مشخصّی نداشت و تنها خواسته ها و آرمانهای مشترک ملّی اعضای آن را ظاهراً به هم پیوند می داد. این حزب از نظر تشکیلات نامنظم و فاقد برنامه و اساسنامه مدون بود که اهداف مشترک اعضای آن را وحدت ملّی ، سلطنت مشروطه و مشارکت مردمی تشکیل می داد."

پدې اړه هيڅ داسې يو تاريخي ليکنه او سند وجود نه لري چې ددې ناسمې معرفي سوي ادعا ثبوت وګرزي. مرحوم داود خان د "ويښ زلمي" د مترقي نهضت په مقابل کې د ملي کلوب ګوند د ښاغلي زابلي په مشرى رامنځ ته کړ او سمدستي ددې حرکت نه وروسته ډېر ويښ زلميان بنديخانو ته واستول سول. په دغه ډله کې اروابناد محمدرسول پښتون چې په بغلان کې د انحصاراتو د عمومي مدير په حيث يې وظيفه درلوده ، په دغه ولايت کې په يوولس کالو او نهو مياشتو بند محکوم سو.

ښاغلي عبدالکريم طالب رحيمي څو کاله مخکې د "ويښ زلمي" د مترقي نهضت د جوړېدو انګېزې ، د سيمه ايزو فعاليتو او ګاونډيو هيوادو اثرات ، د "ويښ زلمي" د مترقي نهضت د بنسټ ايښوونکي او نورو درنو غړو او په افغانستان کې د ويښو زلميانو د نقش په اړه د ښاغلي نصير هنر پښتون څخه وغوښتل چې په دغو برخو کې د هغو شواهدو او تاريخي اسنادو په استناد چې ددوى سره موجود دي ، توضيحات ورکړي. دادي د ښاغلي نصير هنر پښتون هغه جوابونه او توضيحات چې ښاغلي عبدالکريم طالب رحيمي صاحب ته يې لېږلي وه دلته وړاندي کوم. د ښاغلي عبدالکريم طالب رحيمي صاحب ليکنه څو کاله مخکې د کندهار د "طلوع افغان" په اخبار کې خپره او تېر کال بيا هم درنو هيوادوالو ته د (www.pashtun.info) په ملي سايټ کې وړاندي سوه.

## ويښ زلمی

### ۱- د "ويښ زلمي" دګوند د جوړېدو انګېزه

د "ويښ زلمي" د ظهور اساسي انګېزه د عصر او د ملي شرايطو تقاضا وه . بايد وويل سي چې د ګوند په توګه د ويښو زلمو ظهور ډېري وروسته خبري دي ؛ خو مقدمات يې د مرحوم محمدرسول پښتون د ليکنو له مخې د تشکل او ظهور تر مرحلې ډېر پخوا آماده سوي وه .

نونسمو او شلمو پيړيو په ګاونډيو هيوادو کې او همدارنګه د نړى په نورو برخو کې ډول ډول کېنې او ښې آزادي غوښتونکي غورځنګونه منځ ته راوړه ؛ تکامل يې وموند او انقلابونه يې و زېږول . د پخواني شوروي اتحاد تحولاتو ، د ترکيې او ايران غورځنګونو او همدارنګه په اروپايي هيوادو کې صنعتي ، سياسي او اجتماعي اصلاحاتي دورو د نړى پر نورو هيوادو اغيزه وښندله او په فکرونو کې يې اوښتون راوست . دا اصلاحات او انقلابونه څه د ټګ او راټګ په وسيله او څه د اخبارو ، مجلو او کتابو دلاري منعکس سوه او په ذهنونو کې يې ځاى ونيوئ .

البته موږ دا نه سو ويلاى چې يوازي د يوه هيواد تحولات دي دويښ زلمو د ګوند دجوړېدو انګېزه ګرزېدلې وي او هماغسي چې د پخواني شوروي اتحاد پلويانو ادعا کول چې د اکتوبر انقلاب ددې ګوند مهمه انګېزه وه ؛ خبره په داسي شان نه وه ، بلکه حقيقت دادئ چې په افغانستان کې موږ د اکتوبر تر انقلاب دمخه د مشروطيت څو مرحلې درلودلي دي او ويښ زلمي د مشروطيت د نهضت دريمه مرحله ده .

په افغانستان کې د اداري او حکومتي او ضاع د اصلاح فکر د امير شيرعلي خان په دوره کې راپيداکيږي ؛ خو د جګړو په اثر بيرته له ذهنو څخه وزي ځکه چې حکومتونه له منځه ځي . تردې چې د امير عبدالرحمن خان او امير حبيب الله خان دورې رارسيږي : اداري سازمان او حکومتي نظم بيرته احياء کيږي او د خلګو په ذهنو کې هم د تحول او اصلاح فکر نوى کيږي د (اخوان افغان) نهضت ددې دورې محصول دئ ( لومړى مشروطيت ). چې اهداف يې د مشروطيت او د مشروط سلطنت د نظام منځ ته راوړل ، د نوي پوهنې او مطبوعاتو نشر ، د خلګو ويښول او خپلو حقوقو ته ددوى متوجه کول وه . دوهم مشروطيت هم لس کاله وروسته په ۱۳۳۵ ق. کې بيا په هماغه نامه تشکل وکړ او منورين يې پرځان راټول کړه چې اهداف يې د خپلواکۍ لاس ته راوړل او ملي ژبې ته توجه وه – د اماني دورې فکري نهضت ددې مرحلې زېږنده و .

د مشروطيت په دريمه مرحله کي و چي د ويښ زلمي د نهضت مقدمات پيل سوه . البته دا مقدمات ديوه منظم ګوند دپاره نه وه . د شرايطو تقاضا داسي وه چي تر سياسي تنظيم دمخه په نورو نومونو سره افراد راغونډ کړه سي ؛ وروسته په يوه ګوند تبديل سي او هدف يې ، ملي وحدت ، ډيموکراسي ، مشروطيت او اجتماعي او سياسي اصلاحات وي . دا کار محمدرسول پښتون پيل کړ . پښتون په خپلو (خاطراتو) کي چي په ۱۳۲۷ ش. کال ليکل سوي دي د ويښ زلمو انګېزه داسي بيانوي:

(در دورهٔ امانی) عدهٔ رفقای ما بیش از چهار نفر نبوده ، ولی شخصی که بیشتر درین فکر بامن همراه بود محمدکریم خان اسحق زایی پسر عبدالحمید اخوندزادهٔ کندهاری بود... ما باربار باهم مشوره میکردیم که معلمین و جوانان نسبتاً دانسته شهری را باخود همفکر ساخته و عجالتاً یک انجمن رابه نام بازی و تفریح به میان بیاوریم و بعدها رفته رفته در اثر تعامل باهمی شکل یک موسسه علمی و اجتماعی را به خود گرفته و به وحدت فکر و عمل مخصوصاً در تربیه ، اخلاق و نظام حقوقی خدمت کرده باشد ؛ اما این فکر ما آن قدر شاذ و نامانوس بود که به ویژه باعدم توانایی و فقدان پول و علم و وسایل دیگر یک امر محال به نظر میآمد ، ولی ما از کوشش دست نمیکشیدیم... درسال ۱۳۰۷ که بعضی معلمین هندی در کندهار پیدا شدند و وضیعت متعلمین و معلمین معارف فی الجمله خوب شده بود ، در صدد آن برآمدم که برای تاسیس یک مفکوره اجتماعی برخی مواد لازمه را به نام مرامنامه و اساسنامه بر روی کاغذ آورم و مشمولین این مفکوره به نام یک حزب یاد شوند... برای برخی از جوانان دعوت دادم که همدرین نظریه بامن اتفاق نمایند ، بدبختانه ... تنها یک نفر (میرزا محمداعظم ایازی معلم) حاضر شده دیگران اباء ورزیدند . و اگر فراموش نه کرده باشم ، اقای محمدرسول مسلم (کاکړ) نیز با تائید نظریه من در دکان عبدالرحمن دندان ساز حاضر شد... بالاخره در سالهای اول حکومت اعلیحضرت محمدنادر خان دوباره دسته بندی نمودیم که عبدالحی خان حبیبی نیز در آن شامل بود . مطلوب یگانه این بود که حتی الامکان برعدهٔ جمعیت بیفزاییم تا اعضای جمعیت از راه صحبت ها و ردوبدل افکار مستفید و متحد شده برای یک مرام عالیتری مستعد گردند . این جمعیت اگر چه به نتیجه مطلوبی نه رسید اما تخم عمل را کاشته و چندین سال یگانه جمعیتی بود که نظر مردم را فی الجمله به صفت اشخاص دانسته و متجدد جلب کرده و سخنان آنان به طور مثبت و منفی در بین توده پهن شده حکومت را ملتفت میساخت که اوشان را مراقبت نمایند چنانچه بسیار زحمت ها ازین ناحیه بما متوجه شده که ... بالاخره وقتی سخن از حزب ویښ زلمی به میان آمد...باز هم همین اشخاص بودند که درکندهار ازهمه اولتر ، آن را لبیک گفته و درحلقه آن داخل گردیدند... .

د محمد رسول پښتون په ابتکار بله ډله د (بايسکل سواران) په نامه وه چي دا هم په ويښ زلمو کي جذب سوه .

## ۲- د سيمه يزو فعاليتو او ګاونډيو هيوادو اثرات:

منطقوي او جهاني شرايطو د ويښو زلمو په ظهور کي بايد لاس درلودلی وي ، البته نه په مطلقه توګه خو بهتره ده ووايو چي د متقابلو اثراتو او د الهام د منبعې په توګه . په دې شرحه چي په ۱۳۲۵ ق کي امير حبيب الله خان هند ته سفر وکړ او هلته يې فرهنګي او ملي موسسې وليدلې لکه د علی ګړ دارالعلوم و انجمن حمايت اسلام او نور . د نوي مدنيت او صنعت آثار هم د انګريزانو په وسيله هند ته رسيدلي وه . امير د هغو په ليدو متاثر سو او چي کابل ته راغئ ، د مدرسې ، اخبار ، او د علم او سواد د خپرولو فکر ور پيدا سو. (اخوان افغان ) هم په دې وخت کي منځ ته راغئ چي تر ۱۳۲۷ ق پوري يې دوام وموند دوی (بې بنده اقتدار او مطلق قيد) نفی کاوه . په ايران کي هم د مشروطيت نهضت دوام درلودئ او د لومړي مجلس تشکيل په تهران کي ترسره سوی و . ايراني روښنفکران د انتخاباتو د حقوقو د ترلاسه کولو او ملي شورا په جوړولو بريالي سوي وه ، خو هغه څه چه افغاني روښنفکرانو غوښته د هغه يوه ابتدايي مرحله وه . په روسيه کي د تزار په مقابل کي سوشل ډيموکراتيک نهضتونه روان وه چي د اکتوبر په انقلاب منهتی سوه . په ترکيه او نورو هيوادو کي هم اصلاحاتي او انقلابي هڅي په جريان کي وې... دغو ټولو زموږ د هيواد پر سياسي او اجتماعي حرکاتو هم اثر ښانده چه نتيجه يې د مشروطيت څلور مرحلې او راوروسته حرکتونه سوه .

## ۳- د ويښ زلمي ګوند تاداو ايښونکی يا ايښوونکي :

د پښتون د (خاطراتو) څخه ښکاري چي دا ګوند ده منځ ته راوړی دئ . دی ليکي: "آقای صافی (ساپي) درين مفکوره از سابق از جانب خود من ملهم شده و در سال ۱۳۱۲ ش که من در مزارشريف در عملهٔ جناب محمد گل خان وزير داخله با او يکجا بودم و آن وقت هم نزد من اين هدف موجود بود ، همچو مباحث را طرح ميکردم و به ويژه آقای صافی را... زيادتر تحريک ميکردم... درسال ۱۳۲۶ ش موقعی که من به حيث رئيس شرکت اجنسی از چمن به پيشاور رفته بودم آقای غلام حسن خان صافی نيز از مرکز به پيشاور آمده ودر هوتل اروپايی (ډينز) با هم يکجا شديم ، بين خود نشسته برای تاسيس يک حزب عمومی در داخل مملکت صحبت نموديم و براين قرار داديم که او در ولايت مشرقی که خانهٔ او در آن جاست و کابل که در آن جا

مأموریت دارد ، و من در ولایت کندهار تحریک حزب مذکور را نموده ، هر زمانی که زمینه را تهیه نمودیم مجلس ثانی کرده ، حزب را تأسیس می نماییم."

باید وویل سي چې د سکتریزم او ځان غوښتني په اثر څو تنه د تاداو ایښوونکو ادعا لري. لکه نورمحمد تره کی ، چې کله یې قدرت ترلاسه کړ ، ځان یې د ویښ زلمو موسس وباله. خو دی په ګوند کې ډېر عادي او ناپېژندویه غړی و ، چې وروسته یې استعغا وکړه او شاه محمود خان ته یې توبه نامه ورکړه. ددې کار په بدل کې دی په امریکا کې مطبوعاتي آتشه سو (عکس یې دکابل په کالنی کې چاپ سوی دی).

محمددین ژواک د قاضی بهرام اڅکزي نوم یادوي او لیکي چې: "قاضی صاحب در چنداول بنای جمعیتی را بنام ویښ زلمیان میگذارد ." خو د شوروي اتحاد څېړونکي او زموږ سپین ږیري وایي چې: د ویښ زلمو ګوند محمدرسول پښتون د چنداول تر جلسې شل کاله دمخه تاسیس کړی و . دا ګوند په ۱۳۲۵ ش کې قاضي بهرام نه دئ تاسیس کړی او نه په ۱۳۲۹ ش کال تاسیس سوی دئ چې د ګوند مرامنامه جوړه سوه . ځنې بیا د فیض محمد انګار نوم یادوي . دا شخصیت پرته له دې چې د (انګار) جریدې چلوونکی و او د ویښ زلمو یو غړی و ، د مؤسس حیثیت نه لري . غلام حسن ساپی ، ګل پاچا الفت ، عبدالمجید زابلی... هم کله کله په دې نومونو یادېږي ، خو مؤید نه لري . ځینې وایي چې غلام حسن ساپي هم د توبه کوونکو او مقام قبلوونکو څخه و ، او زابلي اقتصاداً ویښ زلمي حمایه کوله خو نور نقش یې نه درلود .

د محمدرسول پښتون د نقش په باب چې د مؤسس په توګه یې درلودلی دئ ، ډېر داخلي او خارجي منابع سته. (آینیه افغانستان) مجله چې په امریکا کې چاپېږي ، لیکلې دي: "د اسنادو او شواهدو څخه داسي څرګندېږي چې د پښتون صاحب سره د تجدد خوښولو او په ډیموکراسي او د ټولنیزو آزادیو عقیده د غازي اعلیحضرت امان الله خان په دوره کې پیدا سوې او په هغه وخت کې ده هڅه کړې وه چې د یوې داسې ټولني یا انجمن تیره کښېږدي چې د زمان او شرایطو د ایجاباتو او اقتضاآتو سره سم د افغاني نیشنلیزم (ناسیونالیسم) په چوکاټ کې د ډیموکراسی د مفکورې د رشد او ودې دپاره زمینه برابره کاندي. د پښتون صاحب په یوه یادداشت کې چې خپل اوښي (اخښی) مرحوم استاد عبدالحي حبیبي ته یې سپارلی و ، داسې لولو:... "ریشهٔ تحریک من قبل از سال ۱۳۰۷ ش درکندهار موجود بود و زمان وضع مقررات و کار سازماندهی آن در حدود ده روز قبل از اغتشاش سقوی یعنی آخر سال ۱۳۰۷ ش خواهد بود . من مرام مشروطه خواهی و تشکیل اتحادیه ی را به رفقای خود پیشنهاد کردم که مورد تصویب قرار گرفت از جمله متحدین من محمدرفیق خان ، مرزا محمداعظم ایازی ، منشی منظورمحمد ، محمدکریم سرمعلم رشدیه و اولیاء الدین خان ، معلمان و متعلمان مکتب وغیره بوده اند ، از آن جمله که درست به یاد دارم (مسلم) نام مشهور است که تا هنوز حیات دارد و درکندهار بسر میبرد."

## د ویښو زلمو اعضاء

د کندهار څخه:

- محمدرسول پښتون (پاچاخان د فخربارک په نامه نومولی و یوولس کاله نهه میاشتي محبوس و).
- قاضي بهرام اڅکزی (قاضي باران) (یونیم کاله بندي).
- قاضي صمد (څلورنیم کاله بندي).
- حاجي محمدانور اڅکزی (څلورنیم کاله بندي).
- محمد علم بځرکی د محمدانورخان زوی (څلورنیم کاله بندي).
- غلام دستګیرخان پوپل
- عبدالغنی
- خالد خروټی
- نوراحمد شاکر
- صمد جان
- محمد حسین طالب
- عبدالرحیم ، آغامحمد ، شیراحمد (ورونه) .
- عبدالشکور رشاد
- عبدالحی حبیبي

- محمددین ژواک
- عبدالروف بینوا
- نوراحمد برېښ
- محمد نورخان اندړ
- میرزا محمد اعظم ایازي
- عبدالواحد خان
- محمد رسول مسلم کاکړ
- محمد ابراهیم خواخوږی ( دوې میاشتی محبوس)
- وکیل نورمحمد
- عبدالهادی بحر ( لس نیم کاله بندي)
- غلام جیلانی خان الکوزی( څلورنیم کاله بندي )
- چټ ملا اخترمحمد اخوندزاده
- محمد یوسف حضرت مجددي ( څلورنیم کاله محبوس)
- غلام رفیع الدین مجددي
- محمد حسین ریدي
- ټېک چند
- حاجي آصف جان
- سید آغا
- نورمحمد تره کی
- محمدکریم خان اسحق زی د عبدالحمید اخوندزاده زوی
- حاجي خدای دوست (اوه کاله محبوس اوهلته مړ سو.)
- آغامحمد کرزی
- حاجي محمد حسین (یونیم کال بندي).
- فیض محمد انګار (پنځه کاله بندي)
- محمدرفیق خان
- محمدکریم اسحق زی
- عبدالرحمن دندان ساز
- ...داس (هندو) د کندهار د اهل هنود څخه.

د کابل او نورو برخو څخه :

- ګل پاچا الفت
- صدیق الله رښتین
- قیام الدین خادم
- رشید لطیفي
- مولینا عبیدالله ساپي
- شمس الدین مجروح

- موسی شفیق
- محمد طاهر ساپی د ډیپو مدیر
- غلام حسن خان ساپی (دوه کاله محبوس)
- فراهي (عبدالرازق)
- سیفی
- فضل ربی پژواک
- محمد ارسلان سلیمي
- ډاکتر علي احمد
- منشي منظورمحمد
- محمد کریم سرمعلم
- اولیاء الدین خان
- عبدالله بختانی
- غبار او محمودي په ویښ زلمو کي نه وه ، دوی بل پروګرام (حزب وطن) درلودئ . ځینی بیا وایي چي ځو ورځي په ګوند کي وه .

له بده مرغه دحزب وطن اوخلق مرامنامې په اختیار کي نسته چي سمه ارزیابي وسي . خو کله چي دا موضوعات په نظر کي ونیسو چي د شلم قرن په پیل کي کتلوي مخابرات ضعیفه وه او د یوه هیواد انکشافات بل هیواد ته په ډېره سوکه توګه روان وه ، په ځو ژبو پوه کسان زموږ په هیواد کي د ګوتو په شمېر وه ، د علم ، فن او هنر ښتنښتنان ډېر محدود وه او د سیاسي فعالیتو علاقه مندان تردوی لا لږ وه ، نو په داسي صورت کي د هغې زمانې د شرایطو سره سم د ویښو زلمو د مرامنامې لیکل ، تطبیق او د هغه سره سم کارکول واقعاً یوه ستره چاره ده ( په تېره چي بیا ضیق سیاسي او اجتماعي شرایط هم په نظر کي ونیسو) د کندهار د محیط په سطحه دا یو ډېر ستونځمن کار و ، خو کله چي موږ د کابل و محیط ته راځو ، هلته شرایط بل ډول وه. د روښنفکرانو تعداد زیات و ، د متمدن عصر ځپې تر هر ولایت پکښې زیاتي خپرې وې . د سواد لرونکو تعداد زیات و ، صنعتي پرمختیا یې تر نورو ولایتو زیاته او د ادبیاتو خوا پیاوړې وه . واضح ده چي د کابل د ګوند او اهدافو محتوی ګانی باید تر نورو ولایتو بهتره او جامع لیکلي سوي وې اما کله چي د محتوی ګانو(مرامنامو) و عملي ساحې ته راسو ، هلته بیا کیسه بل ډول ده . په کندهار کي پر خپلي عقیدې ولاړ خلګ یا اعدام سوه او یا ډېرولږ کلونه په زندان کي پاته سوه ، خو د کابل او نورو ولایتو اعضاوو یا لوړي چوکی ترلاسه کړې او یا هیڅ په ونه سوه . په هرحال بهتره ده د داستان دا برخه د پښتون له خولې واورو. دی د خپلو یادونو په ۱۲ مخ کي لیکي: "... پس از آنجا که این مفکوره در کندهار سابقه داشته و ما خود را نظر به سایر رفقای کابل در اجتهاد خویش پخته تر و هوشیارتر گمان میکردیم ، لذا این مرام مطلوب در بین ما و رفقای کابل صبغهٔ از هم علیحده ای میگیرد و گفته میتوانم که هدف ما سنجیده تر بوده و از رفقای کابلی ما یک چیز تقلیدی بود و اگر آدم از آنها میپرسید که هدف خود را تجزیه کرده ، قناعت بدهند که از کدام ناحیه به مفاد قوم تمام میشود ، نزد آنها یک جواب متحدالمالی موجود بود که آنها وحدت ملي را میخواهند."
د مرامنامو نوري غوښتني هر څه چي وې ، خو د ډیموکراسي تطبیق ، د فکر ، بیان او مطبوعاتو آزادي ، مشروطیت او اصلاحات په ټولو کي مشترک وه . بدبختانه هیڅ آرزو په هماغه وخت کي د هیڅ ګوند په اراده تر سره نه سوه.

### معقول دریغ ، سیاسي اعتدال ، د ډیموکراسی له منځه تګ:

باید وویل سي چي د شاه محمود خان په دوره کي د ډیموکراسی زمزمه معلول و ، نه علت . په دې معنی چي اجتماعي افکار په ټولنه کي داسي یوه حد ته رسېدلي وه چي د آزادیو د حصول او د دولتي واک د کمښت فکرونه په روښنفکري حلقو کي را پیدا سي ، خو دولت ځان مخکي کړ او دا زمزمه یې تشدیده کړه. فکر کیږي چي موجودو ګوندونو ، ټولو معقول دریغ درلودئ او د سیاسي اعتدال پلویان وه (بیله دې بل اختیار یا Option هم نه و). خو وروسته البته ځیني مسایل رامنځ ته سوه ، لکه د (موی مبارک) موضوع د صافي (ساپي) واقعه او د خارجی هیوادو لاس وهني چي دا ټول دولت ته بهانه په لاس ورکړه چي ورکړي ډیموکراتیک حقوق محدود او قطع کړي . که دولت پخپله ورکړه کي صادق وای نو دا ذکر سوي مسایل دونه عمده او د

خطر منبع نه تلقي کېدل او باید ډیموکراسي ادامه موندلې وای ، خو په دې برخه کي داسي قاطع اسناد هم نسته چي واقعاً څه نور پيښ سوه ، چي دهغو په نتیجه کي دولت د ګوندو سره مخالفه رویه راواخیسته. آینده به دا پیښي روښانه کاندي.

## د کندهار په سیاسي تاریخ کي د ویښو زلمو نقش:

کندهار یا بهتره ده ووایو سویل لوېدیز افغانستان د ډېرو پخوا څخه د اجتماعي او سیاسي حرکاتو زانګو وه . نو د ویښو زلمو او تردوی دمخه د (بایسکل سوران) (اخوت افغان) یا (افغان وروړګلوي) ظهور په دې سیمه کي کومه خلق الساعه او تصادفي پېښه نه وه ، بلکه سیاسي ، اجتماعي او تاریخي ریښې لري.

الف: د ویښ زلمو تحریک د کندهار د ژمنی خوب (hibernated) او یا د رکود او خمود و ټولني ته یوه جوټکه ورکړه ؛ خلک یې خپلو حقوقو ته متوجه کړه ، د نوي ژوند د آرزوګانو فکرونه یې په دوی کي پیدا کړه او په اجتماع کي یې د نوي تمدن سا پو کړه . داسي کور به په ښار کي نه و چي د شپې د نقلو محفل یې پر ویښ زلمي نه و او ډېرو محرومو افرادو او طبقاتو او اقشارو به خپل د امیدونو د پرځای کېدو سرچینه دا ګوند باله.

ب: د ظهور او فعالیت تر مرحلې چي را تېر سو ، بیا ددغه ګوند د بنسټ ایښودونکو او د هغو د علاقمندانو نسلونه وه چي د افغانستان په ټولنه کي د ډول ډول اجتماعي او سیاسي حرکاتو د پیل موجب وګرزېده ، البته دا چي ګاونډیو هیوادونو د اوضاع او محرومیتو څخه ګټه اوچته کړه او پخپله ګټه یې مزدور ګوندونه جوړ کړه ، بله خبره ده . مطلب دادئ که تاریخي تحولاتو ویښ زلمیان زېږولي هم نه وای ، د عصر نورو اجتماعي او سیاسي حرکاتو به په افغانستان کي خپلي لاس وهني کړي وای. که ډېر واضح ووایو نو کمونسټان د ویښ زلمو د تحریک نتیجه نه ده . ستمیان او ستمي تمایلات د پښتون سالاری نتیجه نه ده ، او اخوانیت د محمد زو د تمدن خپروني نتیجه نه ده... د شلم قرن استعمار دا تمایلات نه یوازي په افغانستان کي وروزل بلکه د نړی په هر هیواد ، ګوټ ګوټ او هره جزیره کي ئې کمونیزم ، اخوانیزم ، سکتاریزم ، حقوق بشر او داسي نور راپیدا کړل او وده یې ورکړه او تر سیاسي قدرت پوري یې ورسول . په دې هر ګوټ ګوټ ، هر ملک اوهره جزیره کي نه محمدزي حاکم وه نه پښتون سالاري وه او نه ویښ زلمو قدرت لاره .

ت:... په فکري لحاظ لوی انکشاف نه یوازي د کندهار په ټولنه کي راپیدا او تکامل یې وموند بلکه د افغانستان پر ډېرو نورو ولایاتو یې اثر واچاوه.

## د ویښ زلمو څخه د محمدرسول پښتون دبېلتون علت څه و؟

دا پوښتنه بهتره ده داسي وای چي د محمدرسول پښتون څخه د بېدو بوډاګانو د بېلتون علت څه و؟:... حقیقت دادئ چي د پښتون په بندي کېدو او د ویښو زلمو په پاشل کېدو ، په پخوانیو اعضاو کي نه کوم څوک (ویښ) پاته سو او نه (زلمی) زیاترو اعضاو خپله مبارزه پرېښوولې او بیده سوه او هغه کسان چه وروسته وروسته د میوندوال ، خلق ، پرچم ، اخوان او طالبانو سره یوځای سوه په حقیقت که یې خپل اساسي هدف پرې ایښئ و او د کرسی ، شهرت او اپرچونیزم په لاره یې یون کاوه . دا خلګ واقعاً نه ویښ وه او نه زلمي بلکه کرسی طلبه بوډاګان وه . محمدرسول پښتون د اصولو او آیډیالو انسان و هغه هیڅ کله د معاملې انسان نه و . په خپل ژوند کي یې شل پلا دکارونو څخه یې استعفاء کړې وه او هیڅ تقاعد یې نه درلود . هغه عبدالروف بینوا ته ویلي وه چي: زه شل ډیپلومه لرم ، تاسی یو هم نلرئ ، تاسی په ماڼیو کي ناست یاست زما کډه پر سر ده ، زه تقاعد هم نه لرم ... زه یو فکر لرم او دهغه سره به مرم ، تاسي متلون المزاجه یاست.

اوس نو د فهم وړ ده چي دکرسی طلبو بوډاګانو څخه د پښتون (یا برعکس) د بېلتون علت څه و؟

## د ویښ زلمو د مبارزې نتیجه:

ددې سوال جواب په تیرو پوښتنو کي نغښتی دئ. خلاصه یې داده: د ډېرو لوړو ایډیالو سره یې عرض وجود وکړ. په ټولنه کي یې زیات کار وکړ (حکومت هغه له منځ یو وړ. زیاتره اعضاء یې په ژمني خوب بیده سوه. نور اعضا د راتلونکو حکومتو سره یو ځای سوه) ، د مبارزو نتایجو یې پر مابعدو نسلونو اثر وکړ او هغوی یې مبارزو ته چمتو کړه (هماغسي اثر چي حزب وطن او خلق تولید کړ.) سیاسي او ادبي فرهنګ په نسبي توګه ورسره غني سو او په مابعدو نسلو کي یې د ملي او تاریخي هویت د پلټني او تثبیت او همدارنګه یې د ملت غوښتني یا نیشنلیزم روحیه راپیدا او وروزله.